بسم الله الرحمن الرحيم

## په قرانكريم كې د مؤمنانو صفات

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل كتاب كې فرمایلي: « إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْكَبِيرُ» ژباړه:« کومو خلکو چې ايمان راوړی دی او ښه عملونه يې کړي دي، هرو مرو د هغو لپاره د جنت باغونه دي، چې لاندي به يې ويالې بهيږي. دا ستر برياليتوب دی.»، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زموږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او بركت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځې پوري په نیکی سره د هغه تابعداري كوي.

ايمان په الله جل جلاله باندي د انسان د لويو نعموتونو د جملي څخه ګڼل کيږي الله جل جلاله فرمايي:« بَلِ اللَّهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ أَنْ هَدَاكُمْ لِلْإِيمَانِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ» ژباړه:« بلکي الله پر تاسي احسان کوي چې هغه تاسي ته د ايمان راوړو لارښوونه وکړه."» او دا لاره د مطمئن او د با امنه ژوند لپاره ده او د کاميابی اود لوي اجر لپاره لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ » ژباړه:« هر څوك چې ښه عمل وكړي كه هغه نارينه وي او كه ښځه، په دې شرط چې مؤمن وي، پر هغه به موږ په دُنيا كښي سپېڅلی ژوند تېر كړو او (په اخرت كښي به) دغسي خلكو ته د هغو اجر له ډېرو ښو عملونو سره سم وركړو.» او بيا فرمايی:« إِنَّ الَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ وَأَقَامُواْ الصَّلاَةَ وَآتَوُاْ الزَّكَاةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ» ژباړه:« هو، كوم كسان چې ايمان راوړي او غوره عملونه وكړي او زكات وركړي، د هغو ثواب بې شكه د هغو له رب سره دی او پر هغو څه وېره او كړاو نشته ».

په قرآنکريم کې که څوک فکر وکړي نو وبه ګوري چې الله جل جلاله مومنانو ته بيلابيل صفتونه ورکړي دي او پخپل کتاب کې يی د هغه بيان کړي دي چې لدي جملي څخه لمونځونو اداء كول پخپل وخت كي او د هغه د اركانو پوره کول او په هغه کي خشوع کول دي لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ * الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ} ژباړه:« په باوري ډول مؤمنانو بری موندلی دی * هغه (كسان) چې په خپل لمانځونو كښي عاجزي غوره كوي؛» او بيا فرمايی: «وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ» ژباړه:« او هغه (كسان) چې د خپلو لمونځونو ساتنه كوي».

همدارنګه لدي جملي څخه بل هم د لهو او لعب د کارونو څخه مخ اړول دي برابره خبره ده چې دا په وينا سره وي او که فعل سره وي لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ» ژباړه:« او هغه (كسان) چې له عبثو او ناكاره كړنو څخه مخ اړوونكي وي؛» او بيا فرمايي:« وَإِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ أَعْرَضُوا عَنْهُ»ژباړه:« او كله چې يی بابېزه خبره واورېدله، نو پدې وينا سره ورڅخه په ډډه شول»او بيا فرمايي: «وَالَّذِينَ لا يَشْهَدُونَ الزُّورَ وَإِذَا مَرُّوا بِاللَّغْوِ مَرُّوا كِرَامًا»ژباړه:« (او د الرحمان بندګان هغه دي) چې د دروغو شاهدي نه وايي. او كه په كوم بابېزه شي باندي ورشي، نو د شريفو انسانانو په څېر ورڅخه

تېرېږي.» همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم هم په بیلابیلو احادیثو کې په همدي باندي ټینګارکړی دی.

همدارنګه لدي جملي څخه  نفقه کول او په نیکو کارونو باندي امر او د بدو کارونو څخه منع کول دي لکه چي الله جل جلاله فرمايي:« وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ»ژباړه:« او هغه (کسان) چي د زکات په کړنچاري عمل کوي؛»او بیا فرمايي: «وَالمُؤمِنونَ وَالمُؤمِناتُ بَعضُهُم أَولِياءُ بَعضٍ يَأمُرونَ بِالمَعروفِ وَيَنهَونَ عَنِ المُنكَرِ وَيُقيمونَ الصَّلاةَ وَيُؤتونَ الزَّكاةَ وَيُطيعونَ اللَّـهَ وَرَسولَهُ أُولـئِكَ سَيَرحَمُهُمُ اللَّـهُ إِنَّ اللَّـهَ عَزيزٌ حَكيمٌ» ژباړه:« مؤمنان نارینه او مؤمناني ښځي، دا ټول د یو بل دوستان دي.  په ښو چارو امر او له بدیو څخه منع کوي، لمونځونه قائموي، زکات ورکوي او د الله او د هغه د پیغمبر اطاعت کوي. دا هغه کسان دي چي د الله رحمت وربادي نازلیږي. بېشکه الله پر ټولو برلاسی او د حکمت څښتن  دی».

همدارنګه ددی جملي څخه د حیاء او د پرهیزګاری ساتنه ده لکه چي الله جل جلاله فرمايي:« وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ * إِلَّا عَلَى أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ» ژباړه:« او هغه (کسان) چي د خپلو شرم ځایونو ساتنه کوي، * پرته له خپلو مېرمنو او خپلو مینزو څخه يې. پر هغو باندي (په جنسي نژدېوالي) د پړ کېدو وړ نه دي»، همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم په بیلابیلو احادیثو که د حیاء په ساتنه باندي ټینګار کړي دي او محمد بن حنفیه رحمه الله فرمایی چي بشپړواي په دری شیانو کې دي په دین کې حیاء کول او په مصیبتونو باندي صبر کول او په ژوند کې ښه تدبیر کول.

همدارنګه لدي جملي څخه د امانت ساتنه او په وعده باندي وفاء کول دي حقیقي مؤمن تل پخپل امانت کې وفاء کوي لکه چي بزګر خپل کرل شوي شیانو ساتنه کوي او همدارنګه یو کارکوونکي د خپل صناعت ساتنه کوي نو ایمان او وفاء یو له بل سره تړاو لري لکه چي الله جل جلاله فرمايي:« وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ»ژباړه:« او هغه (کسان) چي د خپلو امانتونو، ژمنو او تړونونو لحاظ ساتي.»، او بیا فرمايي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ}، ژباړه:« اې مؤمنانو! د بندیزونو پوره مراعات وکړئ.» او بیا فرمايي: «إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا»، همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم د امانت او د ایمان ترمنځ ربط ورکړي لکه چي فرمایی:د هغه چا لپاره ایمان نشته چې امین نه وي اود هغه چا لپاره دین نشته چې هغه په عهد باندي وفاء ونکړي.

.*****

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چي هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چي د قیامت تر ورځي پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.

د مومنانو دصفاتو څخه بل هم دادی چي هغوي تل د الله جل جلاله ذکر کوي او په الله باندي توکل کوي لکه چي الله جل جلاله فرمايي:« الَّذِينَ آمَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُمْ بِذِكْرِ اللهِ أَلَا بِذِكْرِ اللهِ

تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ» ژباړه:« همدغه (د الله لوري ته ګرځېدونکي) خلك هغه کسان دي چي (ددې پېغمبر بلنه ) یې منلې ده او د هغو زړونو ته د الله په یاد سره ډاډینه ور په برخه کېږئ. خبردار اوسئ! همدغه د الله یاد هغه شی دی چي زړونو ته ډاډینه ورپه برخه کوي.» اوبیا فرمایي:« إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ» ژباړه:« رښتیني مؤمنان هغه دي چي زړونه یې د الله د یاد په اورېدلو لړزیږي. او کله چي د هغو په وړاندي د الله ایتونه لوستل کیږي، نو د هغو ایمان زیاتیږي او هغوی پر خپل رب اعتماد لري.» او حقیقي توکل دادی چې بنده باید په الله جل جلاله باندي باید په ریښتیني ډول سره اعتماد وکړي او دا ترهغه پوري نه بشپړیږي ترڅو د اسبابو نیونه ونکړي اواجتهاد ونکړي لکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم هم په همدي باندي ټینګار کړي دي چې تاسی باید تل په الله باندي توکل وکړي خو د اسبابو نیونه هم باید ترسره کړي.

د حقیقي ایمان اغیزي ټولني ته هم غزیږي حقیقي مومن هیڅکله هم دوکه ناک منافق دروغجن او په وعده کې خیانت نکوي اونه هم دوکه کوي حقیقي ایمان د مومن ساتنه کوي او هغه دیته هڅوي چې د نورو سره ښیګڼه وکړي لکه چې الله جل جلاله فرمایی:« ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا بِالْمَرْحَمَةِ» ژباړه:« بیا (دغه آزاد کوونکی او خواړه ورکوونکی) انسان له مؤمنانو څخه شي؛ او له هغو کسانو څخه شي چي يو بل ته په صبر او (د خدای پر مخلوق باندي ) د رحم ښودنه کوي؛» همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي څوک چې په الله جل جلاله اود قیامت په ورځ باندي ایمان ولري نوهغه د خپل ګاونډي ته زیان نه رسوي او څوک چې به الله جل جلاله او د قیامت په ورځ باندي ایمان لري نو هغه د خپل میلمه اکرام کوي او څوک چې په الله جل جلاله او د قیامت په ورځ باندي ایمان لري نو هغه د د خیر او ښیګڼي خبري وکړي او یا دا چې چپ د پاتي شي.

مونږ او تاسي ټول دیته اړتیا لروچې دایمان په ګاڼه باندي ځان سمبال کړو ترڅو مونږ لپاره امنیت او برقراری او اطمینان رامنځته شي او په دنیا او آخرت کې خوښي رامنځته شي لکه چې الله جل جلاله د مومنانو بدلي په هکله فرمایي:« أُولَـٰئِكَ هُمُ الْوَارِثُونَ*الَّذِينَ يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ» ژباړه:« همدغه (مؤمنان) خپله وارثان دي؛ * هغه (وارثان) چي په میراث کښي به فردوس (جنت) ومومي او په هغه کښي به د تل لپاره هستوګن وي.» او بیا فرمایی:« إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ» ژباړه:« پرته له هغو کسانو څخه چي ایمان یې راوړ او ښه عملونه کوي، د هغو لپاره هیڅکله نه ختمېدونکی اجر دی.» او بیا فرمایي:« إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّاتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا * خَالِدِينَ فِيهَا لَا يَبْغُونَ عَنْهَا حِوَلًا» ژباړه:« البته کومو کسانو چي ایمان راوړی او ښه عملونه يې وکړل، د هغو مېلمستون به د فردوس باغونه وي، * چي هغوی به پکښی د تل لپاره اوسیږي او هیڅکله به د هغو زړه له هغه ځایه وتل او چیري تلل، ونه غواړي.».

**الله جل جلاله د مونږ ته ایمان راپه برخه کړي او زمونږ زړونه د ایمان په ګاڼه باندي ښایسته کړي .**